# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com     www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|


درویش وردک

۱۰ فبروری ۲۰۱۷

## شیخ عبدالقادر الجیلی( ۴۷۰-۵۶۱)هجری قمری

قطب الاولیاء، شیخ الاسلام والمسلمین، رکن الشریعه،علم الطریقه، وموضح اسرار الحقیقه، ابومحمد محیی الدین عبدالقادر بن ابی صالح جیلی،قدس الله روحه ونور ضریحه.

**دشیخ(رضی الله تعالی عنه) نسب**:محیی الدین ابومحمّد عبدالقادر  بن ابی صالح بن ابی عبدالله بن یحیی زاهد بن محمّد بن داود بن موسی بن عبدالله بن موسی الجون بن عبدالله محض بن حسن المثنی بن امیر المؤ منین محمد الحسن بن امیرالمؤ منین علی بن ابی طالب(رضوان الله علیهم اجمعین) ،دی .

مورمبارکه یې: ام الخیر،ام الجبار فاطمه بنت ابی عبدالله الصومعی، یوه پرهیزگاره اوتقوی لرونکی میرمن وه.

**دجناب شیخ صفات** : ډنګراندام، متوسط القامت،پراخه سینه، غنمرنګی،داوږدی ږیری خاوند، له تڼل شویو وروځو، سترګی یې تکی توری، روښانه څیره ،لوړ ږغ، دذاتی وقار اوپوهی علم خاوند و، خدای دی پری رحمت وکړی!

**دشیخ استادان:** شیخ دقرآن علم، فقه اواصول له دغواستادانو لکه : ابوالوفاء، بن عقیل ابوالخطاب محفوظ بن احمد الکلوانی، ابولحسن محمد بن القاضی بن یعلی، وابو سعد المبارک بن علی  المحزونی څخه زده کړل.اوله دغومحدثانویې دحدیث سمع کړی: ابوغالب محم بن الحسن الباقی، ابوسعد محمد بن عبدالکریم، ابولغنایم محمد بن علی بن میمون وابوعثمان اسماعیل بن محمد اصفهانی.

ادبیات یې له علی بن زکریا اویحیی بن علی تبریزی څخه زده کړی.

دطریقت آداب یې له قدوة المحققین وامام السالکین وحجة العارفین اباالخیر حماد بن مسلم الدباس څخه ترلاسه  کړی اوخرقه مبارکه یې دقاضی ابی سعید المخرمی څخه اغوستی.

شیخ تل د دین دعلم اودطریقت درمزونو اوفنونودزده کړی په طلب کې و، ترڅو پدې لاره کې داسی مخکی لاړچی دزمانی په ټول اهل یې برلاسی وموند، له اقرانو تیرشو اوباطن علم یې له زړه څخه ژبې ته ورسید اودولایت امارت یې څرګند شو.

**دوعظ مجالس**: کله چې شیخ بغداد ته لاړ، دابوسعید المخرمی په مدرسه کې یې دتدریس اووعظ اوخطابی تصدی په غاړه واخیسته،هره ورځ به دیرخلک دده پرشااوخوااړتولیدل اوله حضورڅخه به یې فیض اخیست، اوتل به یې حضورته فقها اوصالحین راتلل اودمجلسونو اودوعظ له درسونو به یې ګټه پورته کوله.

**دشیخ تألیفات**: د(الغنیه الطالبی الحق) کتاب، (الفتح الرّبانی والفیض الرحمانی)کتاب، (فتوح الغیب)کتاب، دقرآن عظیم الشان تفسیراوډیرنورکتابونه.

په پای کی شیخ عبدالقادرگیلانی(رضی الله تعالی عنه) د ۵۶۱ هجری قمری کال د۹۰کلونوپه عمرلقاءالله ته متوسل شو اوپه هماغه مدرسه کی چی خپله یی جوړه کړی وه خاوروته وسپارل شو.(انالله وانا الیه راجعون).

نمونه کلام شیخ:

تا ا بد یا رب زتو من لطفها دا رم امید    ازتـو گر امیـد بیــرم کجــا دارم امید
زیستم عمری بسی چون دشمــنان دشمن مگیر    بیوفائی کـرده ام ازتــو وفــا دارم امید
هم فقیرم هم غریبم بیکس وبیمار وزار    یک قدح زان شربت دارالشفاء دارم امید
نا امیـدم ازخود و از جمله خلق جهان    از همه نومیـدم اما از خدا دارم امـید
منــتهای کار تــو دایم که آمرزیدنست    زان سبب ازرحمت بی منتها دارم امید
ذره ذره چون جداگرداندم خاک لحــد    بهر هرذره زتو فضل وعطا دارم امید
روشنی چشم من ازگریه کم شد ای حبیب    این زمان ازخاک کویت توتیا دارم امید

محیی میگوید که خون من حبیب من بریخت
بعد ازاین کشتن ازو من لطفها دارم ا مید